**QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES**

**ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678**
**Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)**

# د احمد علي سائين د اخلاقي شاعرئ يو څېړنيز جاج
# A RESEARCH STUDY OF AHMAD ALI SAYEE'S ETHICAL POETRY

**Farooq Jan** [1]
MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan
**Dr. Shukria Qadir** [2]
Assistant Professor Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

## Abstract:
*This research article critically examines the ethical poetry of Ahmad Ali Sai, a distinguished Hindko poet from Peshawar. His poetry reflects themes of morality, truth, justice, social responsibility, and cultural values. Sai's verses serve as a moral compass, guiding individuals and communities towards virtuous living while preserving the richness of Hindko literature. Through qualitative and analytical approaches, this study explores how his ethical vision strengthens the foundations of Hindko poetic tradition and contributes to contemporary discussions on literature, culture, and social harmony.*

**Key Words:** Ahmad Ali Sai, Hindko Literature, Ethical Poetry, Peshawar, Morality, Social Values, Culture

پېښور چې د ګلونو ښار بللے شي ـ خو دې ښار ته د اولياؤ ښار هم وئيلے شي ـ د دې ښار په خاوره کښې لوي لوي اولياؤ د خاورې څادر په ځان اچولے پراتۀ دي ـ د دې خاورې علما او مشــائح دنيا منلي دي ـ د دې خاورې په بزرګئ کښې څوک شک نۀ کوي ـ په دغه اولياؤ کښې د شعر ادب لوي لوي نومونه هم پراتۀ دي ـ لکه چې د رحمان بابا نوم چې راشــي نو خلقو زړونو ته يې د شـاعرئ نه وړاندې بزرګي مخې ته ودرېږي ـ دا خاوره د حميد بابا خاوره ده ـ دا نۀ چې صـرف پښـتانۀ دلته داسـې دي. بلکې دې دوي سره چې څوک هم اوسېږي دلته اباد او کامياب وي ـ د پښـتنو په شان دې پېښور هندکيان هم اباد ساتلي دي ـ کله چې يوسفزي په دې خاوره حمله اور شو نو دلته په اکثرو ځايونو کښې هندکوان اباد وو.

مونږ پښــتانۀ پېښــور کښــې هندکوانو ته " ښــارے " وايو. لکه څنګه چې په عام وېنا کښــې مونږ د دې خاورې خپلو اوسـيدونکيو خلقو ته " ملکے " وايو. لکه مردان پېښـور ته چې کوم خلق د باوجوړ ، مومند د غرونو نه راکوز شـوي دي ـ هغوي په خپلو خپلو قامونو يادېږي داســـې د دغه ځائے خپلو خلقو ته " ملکے " وايو. نو د دې ځائے يعني د پېښـور خپلو اوسـيدنکيو خلقو ته " ښـارے " وائي ـ او دا دعوي د هندکوانو هم ده ـ چې يوسـفزي راتلل نو دلته زمونږ حکومت وو. يعني د دې خلقو ژبـه هندکو وه ـ او د دې خبرې لوي ثبوت " راجه جے پال " پېش کوي ـ چې محمود غزنوي ترې باشـاهي اخسـتې وه ـ او هغه هندکو ژبه ويونکے وو. او د هغه رعايه هم هندکوان وو. د دې ژبې يعني د هندکو د زوړ والي نه انکار خو نشي کېدلے ـ بلکې هندکوان خو دا دعوي هم کوي چې دا ژبه د ګندهاره تهذيب د خلقو ژبه وه ـ

" د پېښـور په علاقه او وادي په زرګونو کاله د ګندهاره تهذيب بادشـاهانو حکومت کړے دے ؤ.
او دا يوه زرخېزه او شـادابه علاقه وه ـ په دې کښې چې کوم خلق اوسېدل نو هغوي څۀ چاړاګان
خو نۀ وو. لازمي توګه يوه ژبه وئيله او هغه ژبه په يقين سره دا هندکو ژبه وه "[1]

خو خبره بيا دلته غېر يقيني شي چې کوم عوامل داسې وو چې د دې ژبې مضبوط شواهد يې ورک کړل ـ دا ژبه ليکلي شوي شکل کښې ولې نشته ـ بهر حال دا ځانله بحث دے ـ او زېرتحقيق دے ـ خو د دې ژبې زوړولے د دې د وجود نه اندازه کېدلے شي ـ

هم دې ژبې صـوفي شـاعر احمد علي سـائين چې د خپل ځانګړي اسـلوب او موضـوعاتو له کبله هندکوان يې د هندکو ژبې بابا بولي ـ رسـمي تعليم يې نۀ حاصـل کړے ـ خو کۀ مونږ يې د مضـوعاتو او ف فکري ژورتيا ته ګورو نو لوي عالم فاضل ښکاري ـ د پښتو ،هندکو ژبې نه علاوه ورله ګڼ شمېر ژبې ورتلې او شـاعري يې په کښې هم کوله ـ خاطر غزنوي په کتاب " پير **سائينں** " کښې د "*احمد علي سائيں هک عالم فاضل*"د عنوان لاندې ليکي ـ

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

”سائیں ۷ زباناں جانڑدے ائے هندکو ، پشتو، اردو، پنجابي، پوٹھوهاري ، تے
کشمیري انا ساریاں زباناں اچ سائینں نے شاعري کیتي اے “[2]

ترجمه: سائیں په ووۀ ژبو پوهېدو هندکو ، پښتو ، اردو ، پنجابي، پوټهوهاري ،او کشمیري . په دې ټولو ژبو کښې سائیں شاعري کړې ده .

احمد علي سائیں د هندکو ژبې صوفي شاعر ؤ. خپل نوم يې احمد علي ؤ . سائیں يې تخلص ؤ. او د پلار نوم يې انور علي خان ؤ .

”سائیں کے والد کا نام مرزا انور علي خان شیرازي تھا کھا جاتا ھے کہ وہ شیراز سے کابل کے راستے پشاور آئے “ [3]

ترجمه : د سائیں د پلار نوم مرزا انور علي خان شیرازي ؤ. او دا د شیراز نه د کابل په لار پېښور ته راغلے ؤ.

د دوي د زېږون د نېټې په حقله اختلاف دے خو تر ټولو درست چې کومه نېټه معلومېږي نو هغه د دوي د عصر یو لیکوال مرزا نثار بېګ دے هغه د سائیں نه روایت کړے دے هغه وائي

”جدوں منے اناں سي اناں دے عمر دے بارے اچ سوال کیتا تے اناں کھا کہ جنگ ازادي اچ میري عمر چودہ پندراں سال دے درمیان اچ ائي
منوں غدر بوت سارے واقعات یادان“(۸)

ترجمه: چې کله ما د هغوي د د هغوي د عمر په حقله تپوس وکړو نو هغوي ووې چې د جنګ اذادئ په وخت زما عمر د څورالسو او پینځلس کاله ترمېنځه وو ماته د غدر د کال ډېر واقعات یاد دي.

د دې وینا مطابق د دوي د زېږون نېټه ۴۲-۱۸۴۱ء راځي . داسې د دوي د مړینې نېټه کښې هم اختلاف دے ګڼ شمېر لیکوالانو پرې بحث کړے اګر چې د جدید دور سرے دے . خو هغۀ خپل ځان د او د خپلې وینا د تشهیر سخت خلاف ؤ. یو ملنګ انسان ؤ. محراب خاور په کتاب "جوهر کمال *سائیں*" د دوي په حقله لیکلي دي چې

”اپنے شخصي حوالے سے سائیں درویش مزاج انسان تھے عزت وشھرت کي اس همه ګیري اور اپنے کلام کي زیادہ تشھیر کو پسند نھیں کرتے تھے“[4]

ترجمه : د خپل ځان په حواله سائیں یو درویش مزاج انسان ؤ. عزت و شهرت همه ګیری او د خپل کلام ډېر تشهیر يې نۀ خوښو.

مزار يې معلوم دے . اخري عمر کښې په روالپنډي کښې د خپل یو مینه وال کره اوسېدو. احمد علي سائیں مرګ ته نژدې پېښور ته راغلے و او تر مرګه دلته اوسېدو او هم دلته پېښور کښې وفات شو او هم دلته يې مزار شریف دے ډاکټر ظهور احمد اعوان په خپل کتاب کښې ذکر کوي چې د پېښور په مشهور قبرستان شېخ حبیب د دروازې سره متصل دے. خو د مړینې د نېټې پ حقله ګڼ شمېر محقیقن خپله خپله رائے لري . تر ټولو غوره او حقیقت ته نژدې دعوي د خاطر غزنوي ده . خاطر غزنوي د دوي د مړینې د نېټې په حقله لیکي

”منوں پشور دے مشھور ھندکو شاعر تے احمد علي سائیں دے ھم زمانہ تے نالوں نال میاں میر احمد مٹھو مرحوم دا اپڑاں دیوان ملاوے جس
وچ سائیں دي تاریخ وفات اپریل ۱۳، ۱۹۳۲ء درج اے اسي تے مٹھو نے سائیں دا مرثیہ لکھا ھویا وے اے دیوان اوریجنل حالت اچ
میرے کول موجود اے“[5]

ترجمه: ماته د پېښور یو مشهور شاعر او د احمد علي سائیں هم عصر میاں میر احمد مټو مرحوم خپل دیوان په لاس راغلے دے چې په هغې کښې د تاریخ وفات ۱۳ اپرېل ۱۹۳۲ ء درج ده او په هغې کښې مټو په احمد علي سائیں مرثیه لیکلې ده او دا دیوان اورېجنل حالت کښې ماسره موجود دے.

د هندکو ژبې د پرمختګ دپاره هندکوانو د " ګندهاره هندکو بورډ پېښور " په نوم یو بورډ قائم کړے دے . هم د دغې بورډ د سیوري د لاندې د هندکو ژبې نامتو لیکوال محمد اسماعیل اعوان د احمد علي سائیں کلیات راجمع کړو او د بورډ واکمنانو چاپ کړل . څنګه چې د جلال الدین بلخي کلام په مثنوي یادیږي . رحمان بابا کلام په غزل یا په رباعي . داسې د احمد علي سائیں کلام په حرفي[A] یادیږي .د احمد علي سائیں دغه کلیات کښې پنځۀ سوه پنځوس حرفیاني خوندي دي . چې په اتلس بابونو کښې ویشلي شوي دي. احمد علي سائیں بنیادي توګه صوفي شاعري ګڼلے شي . نو د دوي په اولنو ۸ بابونو کښې اخلاقي شاعري ډېره ده . زۀ غواړم چې د دوي د اخلاقي شاعری دلته څېړیز جاج واخلم .

---

[A] : حرفي د هندکو پنجابی او سرائیکی ژبې شعري صنف دے چې اغاز يې د حروف تهجي (الف ، ب ، پ -----) نه کیږي .

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

اخلاقي شاعري :
اخلاق د خلق جمع ده مراد ترې هغه پټ قوتونو دي ـ هغه خوئي خصـــلتونه دي کوم چې د عمل په شـــکل کښـــې ځرګندیږي ـ فضلیات کښې د دې په حقله دي چې

" اخلاق د یو بل سره د تعلقاتو او معاملاتو نوم دے دچاسره او د څه سره تعلق ساتل او معامله کول د اخلاقو نتیجه وي ـدا تعلق او معاملات په دوه قســـمه وي یو ته خوش اخلاق او بل ته بد اخلاق وئیل شي۔ اول الذکر هله پیدا کیږي چې کله مونږ د یو بل خیال ساتو او داسې څۀ عمل او فعل ونکړو چې د هغۀ احساسات مجروح شي په نتیجه کښې ورسره تعلقات خراب شي لنډه دا چې د بل چا توقعاتو ته نقصان ونۀ رسي۔ که چرې دا او یا داسې د نورو خبرو خیال ونۀ ساتلے شي نو بیا بداخلاقي ده ـ"[6]

اخلاق په دوه قســمه دي ـ خوش اخلاق او بد اخلاق ـ خوش اخلاق نه مراد هغه اخلاق دي چې کوم د دنیا مقرر شــوي اقدارو په دائره کښـــې دننه وي ـ او چرې انســـاني تقدس و قوانین نۀ ماتوي ـ بداخلاق هغه اخلاق دي چې د دنیا مقرر شوي اقدار ماتوي او او د انساني تقدس او قوانینو خلاف وي ـ
داسې اخلاقي شاعرۍ نه مراد هغه شاعري ده چې متن ، خیال یې اخلاق وي ـ احمد علي سائيں په شاعرۍ کښې یو لوي اړخ په اخلاقي شاعرۍ باندې اډانه لري ـ
صبر و قناعت : صبر قناعت نه مراد " په خپله برخه صبر کول " او د نورو مال او برخې نه زړۀ موړ ساتل ـ او دا هله ممکنه ده چې کله شهوت په اعتدال وي ـ صبر و قناعت د خوش اخلاقۍ لوي عنصر دے ـ احمد علي سائيں په دې حقله لیکي چې

" ت ـ تقویٰ قناعت بس چائیدی اے
ہور طلب کوئی دنیائے دُون دی نئیں
نئیں ہوائے سکندری مغز اندر
چاہ دل وچ حرص قارون دی نئیں
حصہ روز مقدر دا لبھ رہندا
کوئی لوڑ مکر و افسون دی نئیں
لکھا ازل دا نئیں کم و بیش ہوندا
کجھ پروا سائیاں افلاطون دی نئیں "[7]

ترجمه : په دنیا کښـې دغه تقوي او صـبر پکار دي ـ نۀ غرور د سـکندر پکاردے او نۀ د قارون په شـان حرص پکار دے ـ خپل نصیب باندې صبر پکار دے د دنیا ګټه په فریب او جادو باندې نۀ ده پکار ـ دا کم و زیات له ازله وي ـزما پرې صبر دے ـ زه د افلاطون په علم او پوهې پسې حرص نه کوم ـ
سـخاوت: سـخاوت نه مراد د کمزورو غریبو او بې وسـو سـره مرسـته کول ـ امام غزالي د دې په حقله وائي چې کله شهوت په اعتدال وي نو حیا ، سخاوت ،صبر او پرهېزګارۍ غوندې ښـۀ اوصاف به پیدا کیږي ـ بخل د دې اپوټه دے۔ سخاوت د اخلاقیاتو اهمه برخه ده ـاحمد علي سائيں ګڼ شمېر اشعار د دې په حلقه لیکلي دي ـ لکه

"ے س ـ سخیاں مراتبے خوب پائے
شوماں واسطے ہوگئی نجات اوکھی "[8]

ترجمه: د سخي سړي دپاره د الله په در کښـې غټې مرتبې دي ـ خو کوم سړے چې شوم دے ـ نو هغۀ دپاره خلاسـون ګران دے ـ
یا دا شعر

" ب ـ بند سخاوت دا در رکھدا
جس زردار دا شُوم خیال ہوندے[9]

ترجمه: د سخاوت دروازه چې بنده ساتي ـ د دغه شوم ډېر تنګ نظرے وي ـ
داسـې ګڼ شـمېر شـعرونه بلکې د حرفیانو نفس مضـمون سـخاوت او بخل دے ـ سـخاوت په خوش اخلاقۍ او بخل په بداخلاقۍ کښې راځي او احمد علي سائيں بخیل انسان بد ګڼلے دے۔ احمد علي سائيں د صدقې ډېر ارزښت بیان کړے دے ـ او بلکل حدیث شریف مفهوم یې په کښې راښول کړے دے ـ

" دانشمند ایہ راز بی دس گئے نیں
صدقہ دتیآں سر تو بلا ٹلدی "[10]

اوښیارانو دا خبره هم ښودلې ده چې په صدقې ورکولو سره د سر نه بلاګانې اوړي ـ یعني مصیبتونه ختمیږي ـ

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

حرص: کله چې شهوت د تفریت ښکار شي ـ نو انسان کښې د طمعې ، لالچ ، تمنا او د خپل نصیب نه سېوا لاس پښې وهل شروع کړي ـ هم دا حرص بلل شي ـ حرص په اصل کښې د صبروقناعت الټه معنو کښې راځي ـ احمد علي سائیں ګڼ شمېر ځایونو کښې حرص په بده یاد کړے دے او د انسان د اصلاح کوشش یې کړے دے ـ

” ے لالچ حرص تے دغے دے مگر پیہہ کے
گنہگار بنڑے دا خیال نہ کر
ہ ۔ ہوس دی کاشت ہیہ اَپھل کیونکہ
سود، حرص دا، غیر از زیان کجھ نئیں “ [11]

ترجمه: د لالچ او حرص خیال ستا زړۀ ته رانۀ شي ـ او د ګنهګار جوړېدلو خیل په زړۀ کښې مۀ پېدا کوه ـ د لالچ ونۀ کښې مېوه نۀ وي ـ او د حرص ګټه اصل کښې تاوان دے ـ

احمد علي سائیں پوره پوره حرفیانې د حرص په حقله یې لیکلي دي او انسان ته یې بار بار هم دغه سبق ورکړے دے چې د انساني طمعې او چاپلوسو نه راوځه ـ په خپله برخه باندې صبر وکړه ـ ته ګوره چې دا سېوا کیږي کۀ نا۔ دغه بره شعرونه یې ښۀ مثالونه دي ـ

خودي : خودي ځان پېژندنه ده ـ خودي شعور ذات دے ـ خودي ارتقا ، ذات ، تکمیل او تسخیر حایت دے ـ خودي د انسان عزت ، وقار او سر لوړی یوه فلسفه ده چې انسان په کښې د خپل خالق نه غېر د بل چانه هیڅ پروه نۀ ساتي ـ ځان ورته د خالق نه علاوه د بل چا محتاج نۀ ښکاري ـ او د دې نه پس په خپل ځان په خپل مټ باوري وي ـ اخلاقیاتو کښې خودي په اول صف کښې راځي ـ احمد علي سائیں ځان صرف د لوي الله بنده ګڼلے دے ـ او د غېر نه څۀ غوښتنې نه یې مرګ بهتر ګڼلے دے ـ لیکي چې

” ے اُس خیر خیرات سی موت ہچھی
چھولی اَڈّیں پوے جس خیر واسے “ [12]

ترجمه: د هغه خېر خېرات نه مرګ ښۀ دے چې انسان په کښې بل ته جولۍ غوړوي ـ

د چانه څۀ غوښتل خو لویه خبره ده هغه خو طمع ساتل هم د تبایۍ سبب ګڼي ـ لکه یو ځائے کښې فرمائي چې

” ے سائیاں مال دی طمع کر دل اندر
بیڑی آپڑی نوں احمق روڑ بیٹھے “ [13]

چې زړۀ ته دې د چانه د مال طمع دننه کړه ـ نو سائیں تا خو د خپله لاسه خپله د خلاسي کشتۍ له بل طرف ته مخ کړو۔ د خپله لاسه دې غرقه کړه ـ

څنګۀ چې مونږ وړاندې ووې چې هغه د انسان نه طمع چرته هم نۀ ده ساتلې ـ او احمد علي سائیں کۀ د ژوند مبارک په حقله چې مونږ کتابونو ګورو نو تولو په حقیقي ژوند کښې هم داسې لیکلي چې ډېر خوداره انسان ؤ۔ د غربت او تندستۍ ژوند یې تېر کړے دے خو ولې چاته ئې خپل فریاد نۀ دے وړاندې کړے ـ بلکې چې په کوم محفل کښې به په داسې څۀ پوهه شو بیا به په عمر عمر هغه محفل ته نۀ تللو۔

غرور تکبر : چې کله شهوت تفریط ښکار شي ـ نوانسان غرور تکبر شروع کړي ـ او دا هله کیږي چې انسان کښې داسې څۀ خوبي راشي چې هغه له ځانګړتیا ورکوي ـ لکه مال و دولت ډېرېدل، حسن ، ځواني ،علم ، طاقت ، عهده وغېره ـ او دا په دې پوهه شي چې دا نوره دنیا زما د دې وجې خیال ساتي نو دۀ کښې غرور و تکبر ماده پېدا کیږي او دا هله کیږي چې کله انسان د مذهب نه لرې وي ـ او دا خپل حقیقت هېر کړي چې انسان خو د خاورې نه پېدا دے ـ احمد علي سائیں د غرور و تکبر په حقله ګڼ شمېر اشعار لیکلي دي ـ او دا یې د انسان د بربادۍ نخښې ښودلې دي ـ لیکي چې

” ے اڑی ، خودی ، تکبر نہ کر بندے
دَس تُو تے تیرا مکان کتھے “ [14]

ترجمه : داسې تکبر ، اړې او سر جګې مۀ کوه تۀ خو بند یعني غلام یې ـ وښایه ! تا ته خپل مکان معلوم دے ـ ستا مکان کوم ځائے دے ـ

په دې کښې احمد علي سائیں هډو بل نصیحت ته تلې نۀ دے ـ هغه انسان ته وائ چې په خپل ځان سوچ وکړه ـ خپل حقیقت وپېژنه ـ او دا یواځې دلته نۀ بلکې اکثر اشعارو کښې داسې مخاطب دے ـ

د انسان زړۀ ازارول ، ظلم ، نااصافي :

انسانان ټول د یو ادم اولاد دے او د دوي مثال د یو وجود دے ـ چې وجود کښې کوم ځائے هم خوږیږي تول وجود به ناقراره وي ـ نو بیا څنګه یو انسان به بل انسان ازاروي ـ زمونږ مذهب کښې خو د یو انسان ژوند بچ کول د تول انسانیت ژوند بچ کول دي او د یو انسان مرګ د ټول عالم مرګ دے ـ ظلم او نا انصافي د بداخلاقۍ اهم جز دے ـ

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

انسان هله داسې کوي چې کله حرص ، لالچ غرور تکبر په انسان کښې راشي ـ احمد علي سائيں د دې ټولو ګن شمېر شعرنو کښې غندنه کړې ده او د سمې لارې د انصاف ، رحم او د انسان دوستۍ سبق يې ورکړے دے۔ لکه چې دا چې

ج۔ جگ جہان ستا کے تے
لیندے قہر نی آپڑی جان اُتے
تک قہر دی لہر جہان والی
بلکہ کنبدا سی او مہربان اُتے
جھتے رئے نعرے الله اکبر والے
اُتھے وسدے شری وردہان اُتے
سائیاں عجب ایہ کھیل بی دیکھ سکیں !
حوراں غلمان بی لرزان اسمان اُتے "[15]

ترجمه : څوک چې غريب مسـکين د وخت تنګوي دوي به څنګه ځان د قهر بزاب نه بچ غواړي ـ الله پاک به ولې نهٔ خفه کيږي ـ چې دې ظلمونو ته ګوري ـ چرته چې د رحم ماحول ؤ ـ هلته د ظلم ماحول دے ـ سـائيں د دې دنيا دې خراب حالاتو ته چې ګوري نو اسمان کښې حورې غلمان هم په لړزان دي ـ

پند و نصيحت :

انسان چې خپله د دنيا د راتګ مقصد وپېژني نوهغه به چرې هم بل انسان ته غلطه لاره نهٔ ښائي ـ هغه به تل د انسان د ښېګړې سوچ کوي ـ او بل ته به نېغه لاره ښائي ـ پندونصيحت کول اعلي اخلاقو کښې راځي ـ قران فرمائي چې

" وَ قُولو لِناسِ حَسنا "[16]

ترجمه : او خلقو ته ښهٔ خبره کوئ ـ

د احمد علي سـائيں اولني شـپږ ابواب هم د پندونصـيحت نه ډک دي خو ولې بيا خصـوصـا ووم نمبر باب خو ټول پندونصحت دے ـ او هم د دغې عنوان لاندې هم دے ـ د دې نه وړاندې چې کوم اشعار ما په مثالونو کښې وړاندې کړل دغه ټول د پند و نصيحت ښهٔ مثالونه دي ـ بهر حال د هغې نه علاوه هم ثبوت کښې د دوي شعر راخلم ـ

د ـ دنيا تو اُس کجھ کھٹ لینڑیے
مقصد آنڑے دا جھڑا پچھانڑ جاسی [17]

ترجمه: د دنيا دا ګټه لږه ګټه نهٔ ده ـخو کهٔ يو انسان د خپل راتګ مقصد وپېژني ـ

د دې اشـعارو په رڼا کښـې د دې خبرې فېصـله کول هيڅ ګران نهٔ دي چې احمد علي سـائيں حقيقت کښـې د نورو موضوعاتو په رنګ په خپله شاعرۍ کښې اخلاقيات هم په نظر کښې ساتلي دي ـ دا اشعار د هغوي په حقله دا ښائي چې هغه نهٔ يواځې د حسـن ، و عشـق شـاعر نهٔ ؤ۔ نهٔ هغه يوځې په خيالي اس سـور ؤ۔ هغه کهٔ تصـوف د خپل کلام ښائسـت ګرځولے نو هغهٔ د معاشـرې په حقيقي تصـوير هم نظر سـاتلے دے۔ احمد علي سـائيں د نورو مذهبي افکارو سره سره اخلاقيات هم د نظره نه دي ويستلي او د دې په هر اړخ يې روڼه او ښکلې خبره کړې ده ـ

حوالې

[1] :: فريدي ،سلطان ،منظوم ترجمه ، کليات سائيں، ګندهاره هندکو بورڈ پاکستان ، جنوري ۲۰۰۹ ء مخ iii

[2] : :پير سائيں س، محمد ضياالدين، گندھارہ ھندکو بورڈ پاکستان (پشور) جولائي ۲۰۰۵ مخ ۴

[3] : اعوان، ظهور احمد، ڈاکٹر، ہندکو دے سردا سائیں س احمد علي سائیں س، گندھارہ ہندکو بورڈ پاکستان پشور، مارچ ۲۰۰۷ مخ ۱۰

[4] :جوہر کمال احمد علي سائیں س، محراب خاور، گندھارہ ھندکو بورڈ پاکستان ۲۰۱۰ مخ vi

[5] :پير سائیں س، محمد ضياالدين، گندھارہ ہندکو بورڈ پاکستان (پشور) جولائي ۲۰۰۵ مخ ۳۸،۳۹

[6] : خټک , فضل مير, پروفېسر: فضليات, اعراف پرنټر محله جنګي پېښور درېم اشاعت , جولائي 2021, مخ ۶۲

[7] : سلطان فريدي ، کليات سائيں ، ګندهاره هندکو بورڈپاکستان ، جنوري ۲۰۰۹ مخ ۹۴

QUALITATIVE RESEARCH JOURNAL FOR SOCIAL STUDIES

ISSN Online: 3006-4686, ISSN Print: 3006-4678
Volume No: 02 Issue No: 03 (2025)

---

8 : : هم دغه کلیات .......... مخ ۱۰۰

9 : هم دغه کلیات .......... مخ ۱۰۱
10 : هم دغه کلیات .......... مخ ۵۲
11 : هم دغه کلیات .......... مخ ۴۸، ۴۹

12 : : هم دغه کلیات .......... مخ ۵٦
13 : هم دغه کلیات .......... مخ ۶۷
14 : هم دغه کلیات .......... مخ ۶۹
15 : هم دغه کلیات .......... مخ ۱۰۲
16 : القران سوره بقرا ، آیات ۸۳
17 : سلطان فریدي ، کلیات سائیں ، گندهاره ہندکو بورڈپاکستان ، جنوري ۲۰۰۹ مخ ۲۱